**د سولې مشورتي لويه جرګه**

# د ۱۳۹۹ لمريز کال د سولې دمشورتي لويې جرګې پرېکړه ليک

((و امرهم شوری بينهم))

دغه جرګه د " فَأَصْلِحُوا بَيْنَ أَخَوَيْكُمْ" له مبارک آيت څخه په الهام اخيستلو او د جمهوري رياست د عالي مقام د ۱۳۹۹ لمريز کال د زمري د ۱۴ د ۵۱ ګڼې فرمان په اساس، او همداراز د ۱۳۹۸ لمريز کال د سولې مشورتي لويې جرګې د پريکړه ليک د ۲۱ بند سره سم د ۱۳۹۹ لمريز کال د زمري په ۱۷ نيټه پيل او د دريو ورځو لپاره دوام وکړ. مونږ د سولې مشورتي لويې جرګې ۳۴۰۰ تنه نارينه او ښځينه غړي چې د ټولنې له ۲۳ بيلابيلو اصنافو په استازيتوب له ۳۴ ولايتونو څخه د هيواد په پلازمينه کې راټول شوي وو، ترڅو د طالبانو د ډلې د ۴۰۰ بنديانو د خوشي کيدو او د طالبانو سره د سولې مذاکراتو د چوکاټ تعيينولو لپاره خپلې مشورې وړاندې کړو.

دې ته په پام سره چې لويه جرګه د لوړو مصالحو اړوندو مسئلو په هکله د مشورو لپاره د ملت د لوړې ارادې څرګندويه ده، زمونږ د ګران هيواد تاريخ ښيي چې د افغانستان خلکو په خطرناکو حالاتو کې د ځمکنۍ بشپړتيا، ملي حاکميت ساتلو او د تاريخي لويو جرګو له لارې د مهمو پريکړو لپاره ولسي پوهې ته مراجعه شوې او مناسبې پريکړې يې کړي دي.

د سولې مشورتي لويې جرګې د خپلو غړو د مشورو په اساس چې په کاري کميټو کې يې ترسره کړي، د افغانستان اسلامي جمهوريت، طالبانو، اسلامي هيوادونو او نړيوالې ټولنې ته لاندې سپارښتنې وړاندې کوي:

1. د مشورتي لويې جرګې غړي تلپاتې او با عزتې سولې ته د رسيدو په خاطر د سولې له بهير څخه چې په هيواد کې د امنيت او ثبات لامل ګرځي، هرکلی او ملاتړ کوي.

## د سولې مشورتي لویه جرګه

2. جرګه د سولې مذاکراتو د پیل په وړاندې د شته خنډونو د لرې کولو، د وینو له تویدلو څخه د مخنیوي او همدارز د وګړو د مصلحت او خیر لپاره، د طالبانو د څلور سوو بندیانو د خوشې کیدو نظر تاییدوي.
3. که چیرې د بندیانو په منځ کې بهرني اتباع وي، د بهرني بندیانو له هیوادونو څخه ترمعتبرو ضمانتونو وروسته خپلو اړوندو هیوادونو ته وسپارل شي.
4. باید داډ ترلاسه شي چې د دغو بندیانو له خوشې کیدو سره سم، مستقیم مذاکرات له کومې بهانې پرته ژر تر ژره پیل کیږي.
5. جرګه په جدي توګه په هیواد کې د دوامداره او فوري اوربند د ټینګښت غوښتونکې ده او له نړیوالې ټولنې په ځانګړې توګه د امریکا متحده ایالاتو څخه غواړي چې د افغانستان له خلکو سره پر خپلو کړیو ژمنو عمل وکړي.
6. د افغانستان ملت او د افغانستان اسلامي جمهوري دولت ته دې ډاډ ورکړل شي چې له بند څخه خوشې شوي بندیان بیا ځل د جنګ ډګر ته نه ستنیږي او د دوی کړنې دې وڅارل شي.
7. دې ته په پام سره چې د افغانستان اسلامي جمهوري دولت د طالب بندیان خوشې کولو لپاره اقدام کوي، جرګه له طالبانو څخه غواړي چې د دولت د ټولو ملکي او نظامي بندیانو په وړاندې خپل مکلفیت ادا او بندیان دې ژر تر ژره خوشې کړي.
8. د غوښتنې په صورت کې د هغو کسانو حق العبدی دې خوندي وي چې د خوشې شویو طالبانو لخوا متضرره شوي دي.
9. مونږ له نړیوالې ټولنې څخه غواړو د هغو هیوادونو له لاسوهنو څخه چې د هیواد په بې ثباتۍ کې په مستقیمه او یا غیر مستقیمه توګه ښکیل دي او یا له تروریستي ډلو څخه ملاتړ کوي، مخنیوی وکړي.
10. پداسې حال کې چې د سولې هلې ځلې دوام لري د دې جرګې غړي د افغانستان اسلامي جمهوري دولت او له طالبانو څخه غواړي چې وسله وال

# د سولې مشورتي لويه جرګه

تاوتريخوالی ودروي او ټول اختلافات دې د خبرو اترو له لارې حل او فصل کړي. د افغانســـتان ملت به د هغه لوري په وړاندې چې د تاوتريخوالې پر ادامې ټينګار کوي، قاطع تصميم ونيسي.

11. د سولې په بهير کې بايد اسلامي ارزښتونه، د علماوو رول، د دولت اساسي بنســټونه، ولســواکي او په تيرو دوو لســيزو کې د افغانســتان د خلکو لاســته راوړنې حفظ او تقويه شي.

12. د سولې په مذاکراتو کې د ولسواکۍ او جمهوريت اصـل او د اتباعو اساسـي حقونه، په ځانګړي توګه د قومي، ديني او مذهبی لږکيو سـياسـي موقعيت او حقونه چې د اسـاسـي قانون په دوم فصـل او ددې قانون په نورو موادو کې تسجيل شوي، تر پښو لاندې نشي.

13. د سـولې مشـورتي لويې جرګې غړي ټينګار کوي چې په هيواد کې ښـځې د نيمې برخې د نفوس په توګه بايد له خپلو حقوقي او سـياسـي موقف برخمنې وي او د سولې بهير په ټولو پړاونو کې رغنده رول او مشارکت ولري.

14. د مشــورتي لويې جرګې غړي په دې عقيده دي چې اســاســي قانون يوه ملي وثيقه ده چې بايد وساتل شـي. مګر د اړتيا په صـورت کې اسـاسـي قانون په همدې قانون د تعديل ميکانيزم په اساس تعديل يې ممکن دی.

15. د لويې جرګې غړي وړانديز کوي چې د ملي مصالحې عالي شورا په تشکيل کې د ملي مشـــارکت اصـــل رعايت او د دې شـــورا په ترکيب کې ملي شـخصـيتونه، سياسـي رهبران، ديني عالمان، قومي مشـران، ښـځې، ځوانان، مدني ټولنې او نور قشـرونه شـامل شـي. د سـولې بهير د لا ولسـي کولو په موخه د دې بهير فعاليتونه دې ولايتونو په کچه وغځول شي.

16. جرګه د سـولې بهير پر روڼتيا ټينګار کوي او تمه لري چې د ملي مصـالحې عالي شـورا او مذاکره کوونکی هيئت د افغانسـتان خلکو ته د دې پروسـې په هکله پر وخت معلومات وړاندې کړي.

## د سولې مشورتي لویه جرګه

17. د هیواد امنیتي او دفاعي ځواکونه چې د هیواد د ملي حاکمیت او ځمکنۍ بشپړتیا د ساتونکو په توګه پیژندل کیږي باید لا پیاوړي او ورڅخه زیات ملاتړ وشي. په ورته مهال کې دې د امنیتي ادارو د شهیدانو ورثه وو او د تروریستي پیښو قربانیانیو ته رسیدګي وشي.
18. جرګه ټینګار کوي چې له طالبانو سره د مذاکراتو په لړ کې پر روښانه میکانیزمونو چې د اجتماعي نظم، د تاسیساتو او زیربناوو د امنیت او ثبات باعث ګرځي تفاهم وشي ترڅو د خلکو اندیښني له منځه ولاړې شي.
19. د هیواد امنیتي او دفاعي ځواکونو ته چې د افغانستان د ملت ویاړ دي، د درناوي په موخه دولت ته وړاندیز کوو ترڅو دولت دې پرته د وطن سره د خیانت په جرم د هغو امنیتي او دفاعي منسوبینو د حبس پاتې موده وبخښي چې د جمهوري ریاست د عالي مقام په صلاحیت کې وي. سربیره پر دې هغه کسان چې له طالبانو سره د اړیکو د اتهام په جرم محکوم شوي د بخښنې په فرمان کې شامل شي.
20. د افغانستان اسلامي جمهوري دولت موظف دی چې د ملي منافعو په رڼا کې ځانګړې لاربښوونې وړاندې او د مذاکره کوونکي هیئت د لا پیاوړتیا او بشه والي لپاره لازم اقدامات ترسره کړي. د سولې د بهیر په ټولو پړاونو کې د ښځو حضور تقویه شي.
21. جرګه ټینګار کوي چې د افغانستان اسلامي جمهوریت او طالبانو تر منځ دې د مذاکراتو لپاره لازم شرایط په هیواد کې دننه برابر شي ځکه چې دواړه لوري افغانان دي، کنه له دې پرته دې مذاکرات په دریم بې پرې هیواد کې ترسره شي. مذاکرات باید مستمر او دوامداره وي او په هیڅ دلیل دې ددغې لړۍ مخه نه نیول کیږي.
22. د جرګې غړي د نړیوالې ټولنې او بیا په ځانګړې توګه د امریکا له متحده ایالاتو له مرستو او ملاتړ څخه مننه کوي. په عین وخت کې د جرګې غړي

## د سولې مشورتي لويه جرګه

له هيوادونو او نړيوالو بنسټونو څخه غوښتنه کوي چې پر خپلو ژمنو عمل وکړي او خپل ملاتړ او مرستو ته د مذاکراتو په جريان کې او د سولې له تړون څخه وروسته ادامه ورکړي.

23. له اسلامي هيوادونو او د اسلامي همکاريو له سازمان، په ځانګړي توګه د افغانستان له ګاونډيو څخه هيله لرو چې د افغانستان له خلکو سره د تلپاتي سولې او ثبات په ټينګښت کې مرسته وکړي او خپله اسلامي وجيبه د افغانستان د مجاهد ملت د بيسارو قربيانيو په وړاندې ادا کړي.

24. د مشورتي لويې جرګې غړي د سولې د بهير په جريان کې د اړينو مشورو او همکاريو د وړاندې کولو لپاره بشپړ چمتوالی لري او دولت بايد د سولې د بحثونو د دوام لپاره چې لومړيتوب لري د سولې د مشورتي لويې جرګې له موجوده ظرفيت څخه سمه ګټه پورته کړي.

25. څرنګه چې د جرګې غړيو په خپلو کميټو کې په مختلفو برخو کې مشخص او تفصيلي وړانديزونه کړي چې دولت لپاره په راتلونکې کې ګټور دي، دغه وړانديزونه د دې پريکړه ليک د ضميمې په توګه د جمهوري رياست عالي مقام ته واستول شي ترڅو ددغو وړانديزونو په هکله اړوندو ادارو ته لازمي لارښوني وشي.

د مقدمې سربيره دغه پريکړه ليک ۲۵ بندونه لري چې د ۱۳۹۹ لمريز کال د زمري پر ۱۹ د سولې مشورتي لويې جرګې د غړو لخوا صادره شوه.